*د نړیوالې مذهبي ازادۍ په اړه د متحده ایالتونو کمیسیون (USCIRF) د بهرنیو چارو د وزارت څخه یو جلا وجود دی. دا د امریکا د کانګرېس له خوا تخلیق شوی دی، او د متحده ایالتونو د دولت یو خپلواکه، دوه ګوندیزه مشورتي ډله ده چې په ټوله نړۍ کې د مذهبي ازادۍ څارنه کوي او ولس مشر، ایالتي سیکتر، او کانګرېس ته د تګلارې په اړه توصیې ورکوي. یو ایس سي آیی آر ایف (USCIRF) دغه توصیې زمونږ د قانوني قیمومیت او د بشري حقونو په نړیوالې اعلامیه کې د موجود معیارونو او نورو نړیوالو اسنادو پر اساس ورکوي. د 2015 کلنی راپور د کمیشنرانو او مسلکي عملې له خوا د دې سند پر ناوړه کارونې د یو کلیز کار بشپړتیا وړاندې کوي او د متحده ایالتونو دولت ته د تګلارې خپلواکه توصیې ورکوي. د 2015 کلنی راپور له جنوري 31، 2014 څخه تر جنوري 31، 2015 مودې احاطه کوي که څه هم په ځینو حالتونو کې د هغه مهمو پیښو یادونه کوي کومې چې د دې مودې څخه وروستو رامنځته شوې وي.*

## افغانستان

**مهمي موندني:** د مذهبي ازادۍ حالات په دوامداره توګه د سني مسلمانانو، څوک چې د دولتي او ټولنیزو سخت دریزه عقیدو مخالفت کوي، د شیعه مسلمانانو، هندوانو، سیکانو، او د کوچنیو عیسوي او بهایي ډلو لپاره انتهایي خراب دي. د راپور شوې مودې په اوږدو کې د متحده ایالتونو د جګړې رسمي هئیت پای ته ورسیدو او یو نوی افغان حکومت تاسیس کړل شو. طالبان په دوامداره توګه د ترهګرۍ بریدونه کوي او د دې څرګندولو هڅه کوي چې دولت د تشدد او تهدید پرخلاف د ملکیانو د ژغورنې وړتیا نه لري. د طالبانو عاملان او خواخوږي د عیسویت پر اساس د ملاتړ پر درېو بیلابیلو سازمانو د داسې فعالیتو لپاره بریدونه وکړل چې ''غیراسلامي'' ګڼل کیدل. د افغانستان قانوني نظام په ژوره توګه نیمګړتیاوې لري، ځکه چې اساسي قانون د افرادو د مذهب او عقیدې د ازادۍ ژغورلو کې په ښکاره توګه ناکامه دی او دغه او نور قوانین په داسې طریقو کارول شوي دي کومې چې د بشري حقونو د نړیوالو معیارو څخه تیری کوي. د دغه اندېښنو پر اساس په 2015 کې یو ایس سي آیي آر ایف (USCIRF) بیا افغانستان په پوړ 2 (Tier 2) کې ځای کوي چیرته چې دغه هیواد له 2006 څخه دی.

### پس منظر

د افغانستان د شاوخوا 30 میلیونه ابادي په ګڼ شمیر نسلي ډلو مشتمله ده. د متحده ایالتونو د شمیرو سره سم، افغانستان 42 سلنه پښتون، 27 سلنه تاجک، نهه سلنه هزاره، نهه سلنه اوزبک، درې سلنه ترکیان، دوه سلنه بلوڅ، او اته سلنه نورې ډلې دي. د مذهبي تجزیې په اړه څرګندیږي چې د ابادۍ 80 سلنه سني مسلمانان، 19 سلنه شیعه، او 1 سلنه نور دي په ګډون د سیک، هندو او عیسوي ټولنو. شیعه مسلمانان په عمومي توګه د هزاره نسلي ډلې څخه اړه لري، کوم چې د دغې ټولنې د اټکل سره سم د ابادۍ د 10 او 19 سلنې ترمنځه دي. په روایتي توګه هزاره ګانو سره سخت چلند کیږي او د سیاسي، توکمیز، او مذهبي لاملونو له کبله له نورې ټولنې څخه جلا کړل شوي دي.

اشرف غني، چې د نړیوال بانک پخوانی اهلکار و، د عبدالله عبدالله پر خلاف په دوه کرتیز مسابقتي کمپاین کې د افغانستان ولسمشر انتخاب کړل شو. د قامي یووالي حکومت جوړولو د مصالحت په توګه عبدالله عبدالله د هیواد ستر اجرائیوي رئیس (CEO) ونومول شو. په دې روایتي هیواد کې یو نوی انکشاف دا و چې رولا غني اصلاً لبنانۍ امریکایي عیسوي ده او هغې د مخ پټوونکي نقابونو په اړه د فرانسې د بندیز د مرستې څرګندونه کړې ده.

ولسمشر غني او ستر اجرائیوي رئیس عبدالله د یو داسې اساسي او قانوني نظام څارنه کوي کوم چې د مذهبي ازادۍ مخنیوی کوي. د افغانستان اساسي قانون د فرد د مذهب او عقیدې د ازادۍ د حق په ژغورنه کې پاتې راغلی دی، عادي قوانینو ته زمینه برابروي چې نور اساسي حقونه له منځه یوسي، او د کرکې وړ جمله لري کومه چې وایي چې کوم یو قانون باید د اسلام د اصولو پرخلاف نه شي رامنځته کیدای. حکومتونو د کرکې وړ جمله په ډېره محدود ډول تعبیر کړې ده، کومه چې د مذهب او عقیدې ازادي محدودوي. د سزا قانوني مجموعه محکمو ته دا پرېښله ورکوي چې په هغه صورتونو کې شرعي قانون ته مراجعه کوي په کومو کې چې داسې معاملات شامل وي چې نه یې د سزا قانوني مجموعه او نه اساسي قانون په څرګند ډول توضیح کوي، لکه د مقدساتو سپکاوی او

ارتداد، پر کومو متهم کيدل چې د مرګ د سزا پايله لري. هغه مذهبي مشران چې دولت يې مرسته کوي او قضايي نظام واکمن کړل شوي دي چې د اسلامي اصولو او شرعي قانون توضيح وکړي او پر خلکو يې پر زور ومني، کوم چې په ځيني وختونو کې د مذهبي رجعت پسندۍ خپل سري او ناوړه تعبيرونو په بڼه کې رامنځته کيږي.

**د مذهبي ازادۍ حالات 2014-2015**

***د مذهبي معيارو اداري اجرا:*** په پورته ياد شوي قانوني سياق کې د شرعي قانون محدودوونکي توضيح ته د بشري حقونو پر تضمينو غوراوي ورکول کيږي او د دې پايله ناوړه تيري دي. په قدرت کې د راتلو څخه يوه مياشت وروسته، د وزيرانو شورا (Council of Ministers) چې مشري يې ستر اجرائيوي رئيس عبدالله کوي، د داخله چارو وزارت او د فرهنګ وزارت ته دا رسمي دنده ور په غاړه کړه چې د انګليسي ژبې ورځپاڼه *افغان ايکسپريس (Afghan Express)* د هغه مقالې خپرولو لپاره د مقدساتو د سپکاوي په تور متهم کړي کومې چې د راپور سره سم د الله تعالی پر شتون نيوکه کړې وه. د شورا بيان هم دا اعلان کړ چې نوې حکومت بايد د هغه مقالو پر خلاف سخت ګامونه واخلي کوم چې د مقدساتو سپکوونکې ګڼل کيږي. دغه ورځپاڼې رسمي بخښنه وغوښتله، او دغه يې تخنيکي غلطي وبلله. بياهم، د دې ورځپاڼې څښتن او ستر مدير يې ګرفتار کړل. دا ښکاره نه ده چې آيا دوی په زندان کې دي. دا پرېکړه د پخواني ولسمشر کرزي د شورا يو دوام برېښي کوم چې به په وار وار داسې امرونه صادرول چې د هغه فعاليتونو پر خلاف به يې د عمل کولو غوښتنه کوله کوم چې به ''غيراسلامي'' ګڼل کيدل.

***د غير اسلامي مذهبي اقليتونو پر خلاف د زور کارونه:*** د عيسويت پر اساس کار کوونکي سازمانو پر خلاف د طالبانو درې غټ بريدونه رامنځته شوي دي، کومو چې مرستندويه کارګران او د هغوی کوچنيان وژلي دي. طالبانو په دغه بريدونه کې دوه د دې ادعا پر اساس جايز وګرزول چې دغه ډلو خلک له عقيدو څخه ګرځول او د افغانانو لپاره يې تر مځکې لاندې د عبادت ځايونه جوړ کړي وو، دا داسې ادعاوې وې چې تصديق نه کړل شوې. دغه تشدد دا څرګنده کړه چې څرنګه افغان عيسويان دې ته اړ کړل شوي دي چې خپله ګروهه پټه کړي او دا چې په ښکاره ډول عبادت نه شي کولی. په جون 2014 کې، مذهبي مشر اليکسيس پريم کمار وتښتول شو چا چې د جيسوټ ريفيوجي سروسز (Jesuit Refugee Services) مشري کوله. طالبانو هغه د 2015 د فرورۍ په مياشت کې خوشې کړ. د يادې مودې په اوږدو کې د دولت له خوا د افغان عيسويانو د ګرفتارولو راپورونه نه دي رامنځته شوي خو د راپورونو سره سم ګڼ شمير هند ته کډه شوي دي. په هيواد کې يوه معلومه کليسا د اټاليې د سفارت پر ځمکو خپل فعاليتونو ته دوام ورکوي.

د افغانستان کوچنۍ بهايي ټولنه پټ ژوند کوي، په خاصه توګه له مۍ 2007 راهيسې کله چې د فتواو او حساب عمومي ډاريکټوريټ بهايي ګروهه د مقادساتو سپکوونکې وګرځوله او دې ته اووښتونکي خلک يې مرتدان وګرځول. د افغانستان يهودي ډله تر يو غړي راټيټ شوې ده.

هندوان او سيکان د تبعيض، خوابدۍ او په ځيني وختونو کې د تشدد سره مخامخ دي، سره له دې چې د ښکاره عبادت په ځايونو کې د خپلې ګروهې عملي کولو ته پرېښودل کيږي. دوی ته په پارلمان کې د رياستي ګومارنو له لارې نمايندګي ورکړل شوې ده. دغه ټولنه په تيرو 30 کلونو کې راټيټه شوې ده، د بې ثباتۍ او جګړې له امله په کابل کې په اته و کې يواځې يوه ګوردواره فعاله ده. داسې راپورونه په باقاعده توګه رامخې ته کيږي چې افغان چارواکي او محلي خلک سيکان د خپلو مړو د سوځولو مراسم ترسره کولو څخه منع کوي.

***شيعه او نور مسلمانان:*** د افغانستان شيعه مسلمانان چې د هيواد تر ټولو ستر مذهبي اقليت دي، د ټولنې لپاره طالبانو د حکومت د ختميدو راهيسې حالات ښه شوي دي. د ياد شوې مودې په اوږدو کې، شيعه مسلمانانو په عمومي ډول د دې وړتيا لرله چې د عشورې خپل روايتي عوامي لاريونونه او مراسم بې له څه خنډه ترسره کړي. بياهم، تشدد په دوامداره توګه يوه ډرکه ده. د مثال په توګه په جولای 2014 کې، طالبان ياغيانو 14 شيعه مسلمان هزاره ګان ووژل کومو چې په بس کې سفر کولو. د ياد کړل شوې مودې څخه وروسته، ټوپک والو کسانو 30 شيعه هزاره ګان وتښتول. داسې راپورونه هم رامخې ته شوي دي چې افغان دولت د چينايي حکومت په غوښتنه يوغور مسلمانان له هيواد څخه چين ته شړلي دي.

***د ښځو حقونه***: د ښځو پرخلاف تشدد او تبعیض په یاد کړل شوي موده کې دوام موندلی دی، ترڅه حده د طالبانو د یاغي توب له کبله او ترڅه حده د مذهبي عنعناو خوښوونکو د سخت اغیز له کبله. ولسمشر غني د نومبر په میاشت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواکه کمیسیون (AIHRC) غړو ته وویل چې دوی کولی شي چې د بشري حقونو د اصلاحاتو په باب د هغه د حکومت د اجرا څارنه وکړي او هغه د ښځو حقونو مخ په وړاندې بیولو ژمنه وکړه. هغه ښځې چې په عوامي ژوند کې بوختیدل غواړي اکثر د ''بدچلنه'' په توګه د هغوی غندنه کیږي او د ډار، ځوروني، یا تشدد لپاره په هدف کې نیول کیږي. بیاهم، د ولسمشر غني ښځه، رولا غني، د دې کمپاین په اوږدو کې یو ښکاره نقش ولوبولو. د ولسمشر غني تجویز شوی د 27 غړو ''د یووالي د وزیرانو هئیت'' درې نومول شوې ښځې لرې څوک چې به د لوړو زده کړو، انفارمیشن او فرهنګ، او د ښځو د معاملاتو د وزارتونو مشري کوي. د راپور سره سم په درې نومول شوې ښځو کې دوه د ستر اجرائیوي رئیس عبدالله له خوا انتخاب شوې دي او یوه ولسمشر غني انتخاب کړې وه. که څه هم ولسمشر غني هغه خپله ژمنه ترسره نه کړه چې د وزیرانو هئیت ته به څلور ښځینه غړي نامزدوي، د هغه درې نومول شوې ښځې د پخواني ولسمشر کرزی د وزیرانو د هیئت د دوه ښځو څخه زیاتې دي.

**د متحده ایالتونو ټګلاره**

افغانستان له لسیزې راهیسې په سویلي آسیا کې د متحده ایالتونو د بوختیدو مرکز دی. د متحده ایالتونو د حکومت د هلوځلو هدف د یو باثباته افغانستان جوړول او د القاعده او د دې د مربوطه سازمانونو پرخلاف جګړه کول دی. تیر کال دوه غټې پیښې ولیدلې، د حکومت سوله یز بدلون او د متحده ایالتونو او نړیوالو ځواکونو د جګړه یي هدف څخه روزنیز هدف ته تغیر، که څه هم د متحده ایالتونو ځواکونه اوس هم دا اختیار لري چې جګړه ییز هدفونه ترسره کړي. په هدف کې تغیر د دوه اړخیزه امنیتي موافقې سره د افغانستان د موافق کیدو څخه وروسته رامخکې شو، د کومې چې پخواني ولسمشر کرزئ مخالفت کولو خو ولسمشر غني هغه لاسلیک کړه. د دې لیکنې پرمهال، د متحده ایالتونو د ځواکونو شمیر شاوخوا 10,000 دی، کوم چې د هسک شمیر 100,000 څخه په جدي ډول ټیټ دی. د ولسمشر اوباما اصلي هدف چې ځواکونه به د 2015 تر پای شاوخوا 5,000 ته راټیټوي د ولسمشر غني په غوښتنه وځنډول شو.

متحده ایالتونو د افغانستان د 2014 ډېرې زیاتې مسابقه کیدونکې ټاکنو هوارولو کې مرسته کړې ده، وروستو تر هغې چې د درغلۍ تورونو انتقال کمزوري کولو خطر رامنځته کړ. په ستمبر 2014 کې، د متحده ایالتونو په منځګړتوب رامنځته شوې حل د یووالي حکومت تخلیق کړ چې اشرف غني یې ولسمشر او ډاکټر عبدالله عبدالله یې ستر اجرائیوي چارواکی دی، کوم چې یو نوی منصب دی. حکومتي ائتلاف پاییدونکی بریښي، خو دوه عوامل – په پراخه توګه اداري فساد او د طالبانو بریدونه – د دې اوږد ژوند ته ډېرکه ورکوي. ولسمشر غني او ستر اجرائیوي چارواکي عبدالله د اداري فساد له منځه وړلو ژمنه کړې ده.

ولسمشر غني د طالبانو سره خبرې اترې بیا پیلولو په موخه په فعاله توګه ګاونډي هیوادونو او هغه هیوادونو ته چې د هغه د حکومت سره مالي مرسته کوي، سفر کړی دی. ګڼ شمیر نظر لرونکي د هغه امکاني مصالحتو له وجې اندېښمن دي کوم چې باید د طالبانو سره په سوله کولو کې وکړل شي. د طالبانو مشر ملا عمر څرګنده کړې ده چې هغه مذهبي قانون پرځای کول غواړي، کوم چې به د طالبانو د توضیح له مخې، د هغه مذهبي اقلیت په سختۍ سره محدودوي کوم چې د مذهبي اکثریت د غړو او د ښځو د حقونو مخالفت کوي، د متحده ایالتونو چارواکو په ماضي کې د ښځو د حقونو او د اقلیت د حقونو په اړه اندېښنې څرګندې کړې دي. بیاهم، د افغانستان قانون په اساسي بشري حقونو محدودیتونه لګوي. دا ناڅرګنده چې متحده ایالتونه او نړیواله ټولنه به د غني د حکومت او د طالبانو ترمنځه د دغې ستونزو د حل په اړه څومره اغیز ولري.

په داسې حال کې چې د جګړه کوونکو ځواکونو شمیر ټیټیږي، پر نړیواله مرسته د افغانستان تکیه نه ده بدله شوې. افغانستان په متحده ایالتونو او بهرنی مرسته ډېره تکیه لري، او دا یو داسې حقیقت دی چې په نژدې راتلونکي کې د بدلیدو امکان نه لري. د کانګرې د څیړنې موسسې (Congressional Research Service) ترمخه، د طالبانو د نسکورولو راهیسې متحده ایالتونو افغانستان ته د مرستې په ډګر کې شاوخوا 93 میلیارده ډالره ورکړي دي او له دغې تر 56 میلیارده ډالرو څخه زیات د افغان

ځواکونو د روزنې او په وسلو سمبالونې لپاره ورکړل شوي دي. د مالي کال 2014 تخصیص له 6.1 میلیارده ډالرو څخه زیات و، او د مالي کال 2015 غوښتنه شاوخوا 5.7 میلیارده ډالره ده.

**توصیې**

د نړیوالو ځواکونو د بیرته ستنیدنې او په حکومت کې د اوسني تغیر په پس منظر کې، د طالبانو او نورو وسله والو ډلو له خوا د تشدد خطر د ټولو افغانانو خو په ځانګړې توګه د مذهبي اقلیت لپاره یو زیاتیدونکی حقیقت دی. مذهبي ازادئ ته وده ورکولو او په افغانستان کې د مذهب او ټولنې پر معاملاتو د بیلابیلو مذهبي نظرونو لپاره مدني ځای تخلیقولو لپاره، یو ایس سي آیي آر ایف (USCIRF) دا توصیې وړاندې کوي چې د متحده ایالتونو حکومت باید:

- د افغانستات ولسمشر او ستر اجرائیوي رئیس سره د مذهبي ازادئ اهمیت نیغ په نیغه راپورته کړي، په ځانګړي ډول د مخالفت کوونکو مسلمانانو، مسلمان اقلیتونو، او غیرمسلمه مذهبي ډلو لپاره؛

- په افغانستان کې د مذهبي ازادئ په باب د متحده ایالتونو د حکومت د اژانسو ترمنځه ټاکل شوې قوه بیا فعاله کړي او دا یقیني کړي چې د افغانستان په اړه د بهرنیو او دفاع شعبو په ستراتیژیو کې د مذهبي ازادئ ستونزې په مناسب ډول شامل کړل شي؛

- د متحده ایالتونو او افغانستان په ستراتیژیکي بحثونو او د متحده ایالتونو، افغانستان، او پاکستان سره په درې اړخیزه بحثونو کې د مذهبي زغم په اړه یوه ځانګړې کاري ډله شامل کړي؛

- د افغانستان حکومت دې ته وهڅوي چې د دولتي او نیم دولتي مذهبي ادارو سره په ګډه د ډلو ترمنځه بحث پیل کولو مسؤولیت پر غاړه واخلي کوم چې د اسلام ترمنځه بحث او د مختلفو ډلو سره بوختیدل په پام کې ونیسي؛ او

- دا یقیني کړي چې په مصالحتي پروسه کې د بشري حقونو علاقې شامل کړي او دا چې د سولې د تړون خواوې نه یوازې د افغانستان د اساسي قانون بلکه د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د ملاتړ کولو ژمنه وکړي.